مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د زمري لومړی | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۲مه | ۵۷۲یمه ګڼه

# ملي دسترخوان او د فساد وېره؛

## وکیلانو ملي دسترخوان پروګرام د اساسي قانون خلاف وباله او بودیجه یې رد کړه




۳

### کتاب

۴ مخ

## جیوستراتیژیک




د ترکیې او سعودي ستراتېژۍ څه دي؟ کوچنی قطر څنګه لویې لوبې کولای شي؟ دا او دې ته ورته د سیمې په اړه د جیوستراتیژیکې مطالعې په اړه د وایل شدید لیکل شوې علمي او عملي نظریې په دې کتاب کې لوستلی شی.

## کریمي: د ۷۰۰ میلیونو افغانیو په ارزښت به د هېواد په ګوټ ګوټ کې ۲۲ پروژې بشپړې شي



د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لارو جوړولو ملي پروګرام له لارې د نږدې ۷۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت تړونونه لاسلیک کړې دي. د کلیو پراختیا سرپرست وزیر مجب‌الرحمان کریمي تېر ورځ دغه تړون د لاسلیک پر مهال وویل چې د دغو ۲۲ پروژو په پلي کېدو سره به یو شمېر کلیوالي سیمو ته د تګ راتګ لارې جوړې شي. نوموړي دغه راز په دې برخه کې د افغانستان په ۲۰ ولایتونو کې د نږدې دوه میلیارده افغانیو په ارزښت د ۱۰۰ هغو پروژو په اړه چې د پلي کېدو په حال کې دي، هم رسنیو ته معلومات ورکړل.

کریمي وویل، په دغو پروژو کې یوه هم د پامیر بدخشان لار ده چې ۶۰ کیلومتره جوړه شوې او د ۴۸ کیلومتره نورو د جوړېدو تړون هم لاسلیک شوی چې د دغه سړک په جوړېدو سره به د پامیر ولسوالۍ سړک د بدخشان له فیض‌اباد سره ونښلول شي.

### خلک به د سولې مخالفت ونه زغمي

۲ مخ

### نشست های پی درپی و موانع کلان در برابر صلح

۲ مخ

### تهدید روسیه؛ انتشار متن گزارش امنیتی بریتانیا

۳ مخ

## حمدالله محب: د طالبانو په جامه کې د پردیو دسیسو عملي کېدل نه غواړو

افغان حکومت وایي، له طالبانو سره سوله غواړي، خو د طالبانو په جامه کې د بهرنۍ لوبې او دسیسې پلي کېدو ته اجازه نه ورکوي. د ملي امنیت سلاکار حمد الله محب د ننګرهار د امنیتي وضعیت ارزونې لپاره دغه ولایت ته تللی و. نوموړي له ځایي چارواکو سره د لیدنې پر مهال ویلي چې په دغه ولایت کې د اصلاحاتو لړۍ باید په بې طرفانه توګه مخ ته لاړه شي او د ننګرهار د امنیت لپاره دې اړین اقدامات ترسره شي. نوموړي د نورو مسایلو ترڅنګ د سولې په اړه ویلي، له طالبانو سره د سولې غوښتونکي دي، خو اجازه نه ورکوي چې د طالبانو په جامه کې پردۍ دسیسې او لوبې دلته پیل شي او بهرني جنګیالي په افغانستان کې خپلو ورانکاره فعالیتونو ته ادامه ورکړي. د ده په خبره، افغان حکومت په دې ښه پوه دی چې دسیسې چېرته جوړېږي او د روان ناورین اصلي جرړه چېرته ده، نو له همدې امله په پوره احتیاط له مسایلو سره برخورد کوي.

د محب دغه څرګندونې داسې مهال دي چې په هېواد کې د سولې پروسې له پرمختګ سره سره، لاهم شدیده جګړه روانه ده او هره ورځ د افغان ځواکونو، طالبانو او ملکي وګړو په ګډون له سلګونو افغانانو ژوند اخلي.

## کابلوف: د بندیانو د تبادلې تر بشپړېدو مخکې د افغانستان په اړه ناستې او طرحې بې مانا دي



۵ مخ

## اتاق تجارت وسرمایه‌گذاری: در سال های اخیر صادرات افغانستان به بازارهای هند تا دو برابر افزایش یافته‌اند



بربنیاد آمارهای اتاق تجارت وسرمایه‌گذاری افغانستان، درسال‌های پس از ۲۰۱۶ میلادی، صادرات افغانستان به بازارهای هند تا دو برابر افزایش یافته‌اند.

مسؤلان این اتاق در نشست ملی صادرات می‌گویند که درسال‌های پس از ۲۰۱۶ میلادی، صادرات کشور به پاکستان افزایش کمتری داشته است درحالیکه صادرات کشور به بازارهای هند تا دو برابر افزایش داشته‌اند . از سویی هم شماری ازبازرگانان در کشور می‌گویند که درسال روان به علت شیوع ویروس کرونا و مسدود بودن مرزهای پاکستان، روند صادرات کشور با چالش‌های بزرگی روبرو بوده‌اند.

بربنیاد یافته‌های اتاق تجارت وسرمایه‌گذاری درسال پار میلادی با صادر شدن به ارزش بیش از چهارصدوشصت میلیون دالر کالاهای کشور به بازارهای هند، این کشورازبزرگترین بازارها برای صادرات افغانستان بوده است.

مسؤلان این اتاق در نشست ملی صادرات می‌گویند که دراین سال میزان صادرات کشور به پاکستان با اندکی افزایش به حدود ۲۹۸ میلیون دالر میرسید. بازرگانان برای حل مشکلات فرا راه صادرات کشور از حکومت خواهان برنامه‌های بزرگ حمایه‌یی ازفراورده‌های داخلی است.

سید زمان هاشمی، رئیس هیئت عامل اتاق تجارت وسرمایه‌گذاری در این باره گفت:«کسر بیلانس بازرگانی یک مشکل بزرگ است که ادامه دارد برای کاهش کسر بیلانس بازرگانی باید برنامه‌های عملی شوند.»




## دریـــځ

## خلک به د سولې مخالفت ونه زغمي

په ظاهره د افغان حکومت له خوا د طالبانو د شپږ سوه بندیانو نه خوشې کول د بین الافغاني خبرو د پیل او سولې مخه نیولې ده. حکومت وایي چې دا بندیان جنایي دوسیې لري، خو طالبان یې ردوي او وایي چې حکومت د سولې د خبرو پر وړاندې خنډونه جوړوي. حکومت بیا ادعا کوي چې طالبانو د سولې خبرو د پیل لپاره خپلې ژمنې نه دي عملي کړې او د دوی له لوري د تاوتریخوالي دوام هېڅ لوري ته د منلو نه دی.
له دې سره د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب ویلي، دوی له طالبانو سره د سولې غوښتونکي دي، خو اجازه نه ورکوي چې د طالبانو په جامه کې پردۍ دسیسې او لوبې دلته پیل شي او بهرني جنگیالي په افغانستان کې خپلو ورانکاره فعالیتونو ته ادامه ورکړي.
خلک چې څه محسوسوي هغه دا دي چې دغه دریځونه د سولې د خبرو د پیل مخه نیولې ده او دا چاره بیا د جگړې د غځیدو او د افغان وژنې د دوام سبب شوې ده. له همدې امله حکومت ورته پړ دی او د سولې په لاره کې یې یا خنډ گڼي او یا هم شک پرې کوي چې سوله نه غواړي. د حکومت ځینې کړنې هم د دې سبب شوې چې شک پرې زیات شي او آن ځینې ډاډه کړي چې په ارگ کې واکمن د خپلې واکمنۍ د دوام لپاره د سولې مخالفت کوي. حکومت په پیل کې د یو طالب خوشې کولو تیار نه و، خو اوس یې تر څلورو زرو ډېر بندیان خوشې کړي دي. د حکومت دریځ بدل شو، طالبان خوشې شول، خو ورسره جگړه زیاته شوه او زرگونو افغان کورونو ته یې د اولادونو جنازې ورغلې.
د افغانستان د حکومت دریځ له سولې سره د مخالفت تصویر ورکوي، که حکومت د سولې مخالفت کوي، نو بیا کیسه ښکاره ده او هر څه روښانه دي، خو که حکومت سم وي، نو دریځ یې وضاحت ته اړتیا لري. که داسې څه وي چې خلک یې نهویني او حکومت یې ویني، پکار ده چې روښانه شي. حکومت ته پکار ده چې واضح کړي دوی آخر څه غواړي؟ ولې یې په پیل کې زندانیان نه خوشې کول؟ ولې یې بیا خوشې کړل؟ ولې یې اوس نه خوشې کوي؟ چارواکي خلکو ته ډاډ ورکولی شي چې دا شپږ سوه بندیان به هم نه خوشې کوي؟ اوس چې حمدالله محب وایي چې پردۍ دسیسې دي، ولې دا دسیسې نه روښانه کېږي؟ ولې خلک پر دې هر څه نه خبرېږي؟
دا او دې ته ورته نورې مهمې جدي پوښتنې شته چې حکومتي چارواکي یې باید ځواب کړي. که دوی دغو پوښتنو ته منطقي او سم ځوابونه ونه لري، نو بیا د حکومت په اړه د ډېری خلکو قضاوت سم دی. داسې ښکاري چې حکومت دغو پوښتنو ته ځواب نه لري. دا هم سمه ده چې په طالبانو کې ستونزې شته، خو اوس خلک حکومتي چارواکي د سولې خنډ گڼي. خلک به بیا هم حکومت ته د وضاحت وخت ورکړي، خو که حکومت له وضاحت پرته همداسې دریځ ولري، خلک به مجبور شي چې د سولې لپاره ودرېږي او خنډونه به له مخې لرې کړي. هغوی چې د خپل واک د دوام لپاره د افغان وژنې دوام غواړي، د خلکو له غبرگون سره به مخ کېږي او دوی به بریالي نه شي چې زموږ په وینو د خپل واک ماشین وچلوي.

# نشست های پی درپی و موانع کلان در برابر صلح

**نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی**

محمد اشرف غنی، رئیس جمهور افغانستان در سلسله کنفراس هایی با نماینده گان چندین کشور به تاریخ ۱۹ ماه سرطان سال جاری در پی ایجاد اجماع بین المللی مذکرات صلح با طالبان است. نماینده گان حدود ۲۰ کشور در این کنفراس ویدیویی شرکت داشتند، مقام های حکومت افغانستان گفته اند که در این کنفراس ها نماینده گان چندین کشور از جمله ایالات متحده امریکا، روسیه و همچنین سازمان بین المللی مانند ملل متحد اشتراک کرده و دیگر کشورهای اشتراک کننده شامل پاکستان، هندوستان، ایران، چین، مصر و قطر بوده اند. اشتراک کنندگان از افغانستان متحد، دارای حاکمیت ملی، تمامیت ارضی، صلح پایدار و از تلاش های دولت افغانستان برای برگزاری کنفرانس ژنو حمایت کرده و اعلام آمادگی برای کمک به بازسازی افغانستان بعد از به نتیجه رسیدن روند مذاکرات صلح نمودند. همچنین از دولت افغانستان خواستند تا در زمینه حکومتداری خوب به تعهدات بین المللی خویش عمل نماید.
یک روز پس از آن به تاریخ ۲۰ ماه سرطان، نشست سه جانبه افغانستان، چین و پاکستان برگزار گردید. به گفته سخن گوی وزارت خارجه، این نشست در سطح معینان وزارت خارجه سه کشور برگزار شد، در این نشست نماینده گان کشورهای چین و پاکستان از اقدامات حکومت افغانستان برای رهایی زندانیان طالبان استقبال کرده اند و از طالبان خواسته اند تا خشونت ها را رها کنند و در مسیر مذاکرات بین الافغانی گام های عملی بردارند. این نشست ها در حالی راه اندازی می شود که آغاز مذاکرات بین الافغانی با بن بست روبه رو شده است، و علت آن نیز رها نشدن شماری از زندانیان طالبان از جانب حکومت عنوان شده است. آنچه مسلم است اینکه طالبان تا اکنون در راستای آغاز مذاکرات بین الأفغانی انعطاف کم تری نشان داده اند.
در کنار آن خلیلزاد نماینده ویژه امریکا برای صلح افغانستان با ملا برادر معاون سیاسی طالبان به قول این گروه مبنی بر آغاز گفتگوهای بین الافغانی به تاریخ ۱۴ سرطان گفتگو کرده است. خلیلزاد می گوید که هر گونه تاخیر در مذاکرات، به مخربین روند صلح فرصت می دهد تا آنرا تخریب نمایند. در خبرنامه طالبان آمده است که ملا برادر با آدم بولر در باره رفاه اقتصادی، بازسازی، پیشرفت افغانستان و طرح های اقتصادی نهاد توسعه و سرمایه گذاری بین المللی ایالات متحده امریکا برای کشورهای منطقه صحبت کرده است. کاهش خشونت ها، رهایی زندانیان دوطرف، آغاز گفتگوهای بین الافغانی و حمایت منطقه یی از روند صلح افغانستان از موضوعات مورد بحث خلیلزاد با مقام های افغانستان بوده است. تا اکنون حکومت افغانستان از پنج هزار زندانی طالب تاکنون نزدیک به چهار هزار را از زندان ها رها کرده است و قرار است در این هفته نیز شماری از زندانیان طالبان رها گرداند. در حالی که تاکنون زمان آغاز گفتگوها بین الافغانی اعلام نشده است، اما برخی منابع می گویند که این گفتگوها در ماه روان میلادی آغاز خواهد شد.
نشست های ویدیویی اخیر رئیس دولت افغانستان با همتایان منطقه ای اش، ظاهراً ریشه در تلاش های حکومت برای اقناع کشورهای منطقه برای آوردن صلح دارد، همچنان این نشست ها برای جلب هم سویی کشورها و سازمان های دخیل در امور افغانستان در مسیر صلح و گزارش دهی از کارهایی است که حکومت افغانستان در مسیر صلح کرده است. اما بیشتر تحلیل گران امور صلح؛ تا حال نسبت به صداقت حکومت در روند صلح؛ ابراز شک و تردید می نمایند.

موانع و چالش ها

تردیدی نیست که براي خاتمهء جنگ و رسیدن به صلح مهمترین اقدام ها باید بر رفع عوامل روشن نگهدارنده شعله های جنگ متمرکز شود با این فرض است که مي توان گفت نشست های دو جانبه یا چند جانبه نمی تواند نتیجه بخش باشد، مگر آن که ریشه اصلي موانع صلح دقیق شناسایی و رفع شود. امروز دلایل مختلف سر راه پیشرفت پروسه صلح قرار دارد، حقیقت این است که سیاستمداران افغانستان و جریان های دخیل در قضایای کشور، نگاه های متفاوت، مختلف و حتی متضاد به روند صلح داشته و در حال حاضر نیز اجماع سیاسی برای چگونگی گفتگوها، میزان سهم دادن و مشارکت مخالفان مسلح در روند سیاسی، نحوه‌ی برخورد با عملکردهای مخالفان مسلح متهم و... وجود ندارد.
از جمله موانع کلان پروسهء صلح، دخالت کشورهای خارجی در این پروسه میباشد. رویدادهای جاری افغانستان تایید می کند که روند صلح و برقراری امنیت در افغانستان، در گرو کشورهای است که منافع کلانی در افغانستان دارند و به دوام ناامنی به عنوان بهانه حضور و دخالت در منطقه، نیاز دارند. این کشورها عموماً به صلح در افغانستان از دیدگاه منافع خود شان نگاه میکنند، نه از دیدگاه افغانها.
همچنان افغانستان از لحاظ فقر در رده پنجم کشورهای جهان قرار دارد و این اوضاع بد اقتصادی کشور را بیان میدارد. از نگاه تامین مالی نیروهای نظامی نظامیان افغان بشدت به آمریکا وابسته است، وابسته بودن به یک کشور از لحاظ اقتصاد به معنی وابسته بودن از لحاظ سیاسی نیز میباشد، پس کشور آنطور که لازم است نمی تواند روابط سیاسی خود را آزادانه تنظیم نماید.
قضیه‌ی دیگر، اختلاف بالای رهایی زندانیان دوطرف است. طالبان خواستار آزادی فرماندهان مخالف و افرادی از بند می باشند که نزد حکومت افغانستان متهم به جنگ، ترور، دهشت و هراس افگنی هستند و یاهم قضایای حقوق العبدی دارند. به همین خاطر روند رهایی تمام ۵ هزار زندانی طالب با سکتگی مواجه شده و این سکتگی به نوبهء خود مانع مهم در برابر آغاز مذاکرات صلح بین الأفغانی گردیده است.
موانع دیگر صلح، را می توان در سیاست خارجی نامتوازن دولت افغانستان جستجو کرد، زیرا منافع ایران و روسیه با امریکا، از هند با پاکستان و برخی دیگر از کشورهای منطقه در افغانستان در تضاد قرار دارند، دولت افغانستان نیاز دارد تا در رابطه به صلح موقف قاطع اتخاذ نموده، همسایه های افغانستان را قانع سازد که صلح درین کشور، همان طوریکه برای افغان ها ارزش حیاتی دارد به نفع کشورهای منطقه، نیزخواهد بود.
کریم پوپل از آگاهان مسایل سیاسی که در اروپا زندگی می کند در یک یاداشت نوشته است: در حوت سال ۱۳۹۵ وزارت داخله افغانستان فهرست گروههای تروریستی در کشور را به سازمان پولیس اتنرپول تسلیم کرد که علاوه بر طالبان، در افغانستان فعال بوده علاوه بر این که علیه دولت افغانستان می جنگند اکثر شان مجرمان بین المللی بوده در قتل هزاران نفر دست دارند. نزدیک به ۱٦٨ گروپ بزرگ و کوچک مسلح در افغانستان به فعالیتهای مسلحانه مشغول اند.»
از این گفته ها معلوم می گردد دولت افغانستان تنها با گروپ طالبان درگیر نیست، بلکه با گروه های مخالف دیگر نیز درگیر است که فعالیت های خود را زیر اسم گروه طالبان انجام میدهند. صلح با طالبان سبب افشا فعالیت های گروه های تروریستی دیگر میگردد که در واقع آنها نیز به عنوان این که بتوانند فعالیت های خود به اسم گروه طالبان خاتمه دهند، برنامه های برای سبوتاژ نمودن پروسه صلح انجام میدهند.
عوامل دیگری از جمله بی تفاوتی کشورهای اسلامی در حل بحران افغانستان و حتی حمایت برخی از آنها از گروه های مخالف مسلح، ضعف حاکمیت دولتی در افغانستان، بی ثباتی سیاسی و تنش میان رهبران، بی اعتمادی مردم به دولت، حضور کشورهای متعدد خارجی و... میباشد.
در این میان تشدید حملات مخالفین مسلح در مناطق مختلف کشور، امیدها نسبت به صلح را کمتر می سازد. گرچه طالبان رسماً مسؤلیت این حملات را از خود منتفی کرده اند، اما در شرایطی که طالبان عملاً آتش بس اعلم نکرده اند دشوار است که چنین حملاتی را با افراد وابسته به این گروه مرتبط ندانست. اعلام آتش بس از سوی طالبان نشان دهنده حسن نیت و تعهد واقعی آن ها به مذاکرات صلح است و از سوی دیگر می تواند باعث جلوگیری از اتهام هایی شود که این روزها پس از وقوع هر حمله ای، در اذهان عامهء مردم نسبت به طالبان به وجود می آید. به آن ها زده می شود. البته حکومت افغانستان نیز در مناطق مختلف کشور دست به عملیات تهاجمی علیه طالبان می زند که در بغرنج سازی پروسهء صلح بی تأثیر نمی باشد.
افغانستان در ۴۰ سال گذشته همواره گرفتار جنگ بوده است، اما تلاشها بخاطر صلح بسیار کمرنگ می باشد. حالا که شرائط برای تحقق صلح مهیاء شده اشت، افغانها باید ازین فرصت استفادهء اعظمی نموده و صلح را در کشور قائم سازند. مردم افغانستان که قرباني اصلي تداوم این جنگ ها و ناامني ها بوده و می باشند، همواره به وعده های صلح، به نظر مثبت دیده و از آن حمایت نموده اند. این بار داعیهء صلح وارد مرحلهء جدیدی شده است که افغانها می توانند از راه تفاهم بین الافغانی و کار بیشتر در جهت رفع موانع جنگ، به زودی شاهد تحقق صلح عادلانه و پایدار در کشور خود باشند.

## اعتراض کوونکي: د جگړې ښکېلې خواوې له ملکیانو د سپر په توگه کار اخلي

د غزني لسگونو اوسېدونکو په دغه ولایت کې د ولسي وگړو د مرگ‌ژوبلې په غبرگون کې تېره ورځ د کابل-کندهار لویه لاره د تگ راتگ پر مخ وتړله.
دغو اعتراض کوونکو افغان حکومت او طالبان پر دې تورن کړل چې په نښتو کې له استوگن ځایونو څخه استفاده کوي او له ولسي وگړو څخه د سپر په توگه کار اخلي.
دوی ادعا کوي چې ورمه شپه د غزني د ښار اړوند د «آرزو» په کلي کې د افغان ځواکونو د هاوان مرمۍ د لگېدو له امله درې ولسي وگړي وژل شوي او دوه نور ټپیان دي.
لاریونوالو د ولسي وگړو جسدونه د غزني ښار د مارک میوې سیمې ته راوړل او د اعتراض په توگه یې د کابل-کندهار لاره وتړله.
د دغو اعتراض‌کوونکو له ډلې عبدالله مجید امریکا غږ ته ویلي چې له څلورو میاشتو راهیسې په جگړه‌ییز حالت کې دي او په دې موده کې د ښځو او ماشومانو په گډون څه باندې ۳۰ تنه ولسي وگړي وژل شوي دي.
هغه زیاته کړې چې په نښته کې د طالبانو او حکومت له خوا د درنو وسلو د استفادې له امله لسگونه کورونه ویجاړ شوي او دغه راز خلک له وېرې په خپلو کروندو کې کار نشي کولی.



د سمیع‌الحق په نوم بل اعتراض کوونکي پر افغان حکومت نیوکه وکړه او ویې ویل چې د بمباریو له امله څه باندې ۳۰۰ کورنۍ د خپلې سیمې پرېښودلو ته اړ شوي دي.
اعتراض کوونکو د آرزو په کلي کې د امنیتي ځواکونو د مرکزونو د ایستلو غوښتنه وکړه او خبرداری یې ورکړ تر هغې چې د دوی ستونزې حل نه شي، خپلو اعتراضونو ته به دوام ورکړي.
په ورته وخت کې بل لورته د غزني د والي ویاند واحدالله جمعه زاده هم یاده پېښه تاییدوي او وایي چې ورمه ورځ د آرزو په سیمه کې د هاوان مرمۍ د لگېدو له امله دوه ملکي وگړي وژل شوي او درې نور ټپیان شوي دي.
هغه زیاته کړې: «خلکو د دغو کسانو د وژل کېدو په غبرگون کې لاریون کړی دی، پلاوی ټاکل شوی دی، ترڅو دغه قضیه بررسي کړي چې دغه کسان د چا په ډزو کې وژل شوي دي.»
جمعه زاده ویلي، دغه کسان چې د هر چا په ډزو کې وژل شوي وي، له قانون سره سم به سزا ورکړل شي.
د یادونې ده چې آرزو د غزني ښار له نا امنو سیمو څخه ده چې ډېری وخت پکې د حکومتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ جگړې کیږي.

# تهدید روسیه؛
## انتشار متن گزارش امنیتی بریتانیا

بی بی سی- فارسی

چند عضو کمیته اطلاعات و امنیت پارلمان بریتانیا گزارش این کمیته در مورد «مداخله روسیه» در امور داخلی این کشور را همراه با انتقاد شدید از دولت ارائه داده‌اند.
آنان در یک نشست خبری گفتند که «دولت های مختلف بریتانیا با آغوش باز از الیگارش های روسی استقبال کردند» و مسایل امنیتی کشور را نادیده گرفتند.
اصطلاح الیگارش به آن دسته از ثروتمندان روسی وابسته به حکومت این کشور اطلاق می شود. شماری از آنان در بریتانیا سرمایه گذاری کرده و دست کم بخشی از سال را در این کشور سکونت دارند.
به گفته گوردون کوررا، خبرنگار امور امنیتی بی بی سی، اکنون و بعد از مدت‌ها انتظار، مردم بریتانیا می‌توانند جزئیات «گزارش روسیه» را ببینند. این گزارش درمورد آنچه تهدیدات روسیه علیه بریتانیا تلقی شده است.
متن این گزارش یک سال و نیم پیش تکمیل شده بود، و کمیته اطلاعات و امنیت پارلمان بریتانیا آن را دیروز (سه‌شنبه) برای اطلاع عموم منتشر کرده است.
به گفته خبرنگار امور امنیتی بی بی سی آنچه که در دسترس عموم قرار گرفته، مروری است بر اتهاماتی که دولت بریتانیا بعنوان تهدیدات امنیتی به دستگاه‌های اطلاعاتی و جاسوسی روسیه وارد کرده است، و نیز اقداماتی که دولت بریتانیا برای برخورد و مقابله با این تهدیدات انجام داده است.
این گزارش وقتی در دستور کار قرار گرفت که ادعاهایی مبنی بر دخالت روسیه در انتخابات پارلمانی سال گذشته بریتانیا مطرح شد؛ ادعاهایی که کرملین رد کرده است.
این گزارش براساس اطلاعات سری که از سازمان‌های جاسوسی بریتانیا و نیز کارشناسان مستقل به دست رسیده، تهیه شده است؛ و میزان جاسوسی و خرابکاری روسیه علیه بریتانیا و متحدانش را به تفصیل توضیح می‌دهد.
این گزارش علاوه بر بررسی جاسوسی عرفی و جاسوسی سایبری، به علاقه روسیه به پیگرد دشمنانش در خارج و درمواردی کشتن آنها می‌پردازد.
مسموم کردن سرگئی سکریپال با سم اعصاب نوویچوک در سالزبوری در جنوب بریتانیا در سال ۲۰۱۸ میلادی، یکی از موارد اخیر در بریتانیا و اروپا بوده که به مسکو ربط داده شد.
آیا روسیه در دو رفراندوم برگزیت و استقلال اسکاتلند رخنه‌کاری کرده بود؟
احتمالا این بخش از گزارش که درمورد دخالت روسیه در پروسه‌های سیاسی بریتانیاست بیش از همه مورد توجه باشد.
عملیات دستگاه‌های اطلاعاتی و جاسوسی روسیه نقش قابل ملاحظه‌ای در انتخابات ریاست‌جمهوری آمریکا در سال ۲۰۱٦ داشتند. به همین دلیل، مدت‌هاست که این سوال در بریتانیا مطرح است که آیا فعالیت‌های مشابهی در بریتانیا در رفراندوم استقلال اسکاتلند در سال ۲۰۱۴ و در رفراندوم برگزیت (خروج بریتانیا از اتحادیه اروپا) در سال ۲۰۱٦ صورت گرفته است؟
هفته گذشته، دولت بریتانیا گفت که باور دارد که عوامل روسیه سعی داشتند که در انتخابات سراسری بریتانیا در سال ۲۰۱۹ رخنه‌کاری کنند. ولی تهیه این گزارش قبل از این انتخابات بوده است.
بعضی از کمپین‌های رسانه‌ای برای رویدادهای سیاسی پیشین که به روسیه ربط داده شده شناسایی شده‌اند؛ ولی سوال مهم‌تری که باید به آن پاسخ داد این است که آیا چنین فعالیت‌های جاسوسی اثر چشمگیری هم داشته‌اند.
آیا واکنش بریتانیا خیلی ضعیف بوده است؟
این گزارش به این سوال می‌پردازد که آیا دولت‌های وقت اقدامات لازم برای مقابله با روسیه را انجام داده‌اند.
واکنش ضعیف دولت بریتانیا درقبال قتل الکساندر لیتوینینکو با ماده رادیواکتیو پلونیوم در لندن در سال ۲۰۰٦ مورد انتقاد بسیاری قرار گرفت. بسیاری از ناظران از واکنش ضعیف بریتانیا در این رابطه بعنوان اشتباهی خیلی جدی یاد می کنند، از جمله کسانی که به کمیته اطلاعات و امنیت شهادت داده‌اند.
بسیاری معتقدند که، درمقابل، واکنش محکم بریتانیا درقبال مسموم کردن سرگئی اسکریپال بسیار کارساز بود، خصوصا این که متحدان بریتانیا را علیه روسیه همراه کرد.
هدایا و نفوذ مالی روسیه
سوال این است که چرا مقابله با فعالیت‌های روسیه چنین طولانی مدت ناکام بوده است؟
براساس شهادت کسانی که با کمیته اطلاعات و امنیت صحبت کرده‌اند، جوابش نفوذ روسیه در بریتانیا و مخصوصا قدرت مالی آن است که عمیقا به زندگی مردم رخنه کرده است.
طبقات مختلف مردم، وکلا، مدیران بانک‌ها، رؤسای حسابداری و کارشناسان روابط عمومی، همگی درنتیجه پولی که از روسیه به بریتانیا، بویژه به بخش «سیتی لندن» (قلب مالی در مرکز پایتخت)، سرازیر شده، پولدار شده‌اند.
این وضعیت گروه بانفوذی را بوجود آورده است که مدام تلاش می‌کنند تا مانع برنامه‌های سخت‌گیرانه، مانند تحریم‌ها، علیه روسیه شوند.
اگر این گزارش به هدایای روسیه در ارتباط با مسائل سیاسی بریتانیا پرداخته باشد، می‌تواند بسیار بحث‌برانگیز شود.
الکساندر تمرکو، از مقامات پیشین روسیه، بیش از یک میلیون پوند به سیاستمدران حزب محافظه‌کار بریتانیا بخشیده و نامش در ارتباط با این گزارش برسر زبانه‌ها بوده است. سال گذشته، او به من گفت که می‌خواهد این گزارش منتشر شود؛ او گفت که او منتقد کرملین است، و نه از عوامل آن.
اما احتمالش بسیار کم است که هیچ نامی در این گزارش ذکر شده باشد.
چرا این گزارش با تاخیر منتشر شد؟
بعضی‌ها معتقدند که موضوع هدایای سیاسی روسیه از دلایلی است که دولت بریتانیا اجازه نداد که این گزارش قبل از انتخابات سراسری سال گذشته، دسمبر ۲۰۱۹، منتشر شود.
ولی درمقابل، یکی از عوامل داخلی دولت گفته است که دلیل آن همان چیزی است که به «حکایت دو تا دومینیک» معروف شده است: دومینیک کامینگز، مشاور ارشد دولت بوریس جانسون، و دومینیک گریو، رئیس پیشین کمیته اطلاعات و امنیت.
گفته می‌شود دومینیک کامینگز نمی‌خواست صحنه را به دومینیک گریو واگذار کند؛ آقای گریو از فراخوان حزب برای رای‌گیری درمورد رهبر حزب درنتیجه اتفاقات برگزیت کنار کشید و بعنوان نامزد مستقل وارد انتخابات شد و موفق نشد.
بالاخره مردم بریتانیا، بعد از همه شایعات، می‌توانند این گزارش را ببینند؛ البته نه همه آن را. انتظار می‌رود که بخش‌هایی از آن حذف یا سانسور شده باشد. همچنین یک نسخه محرمانه هم خواهد بود که فقط در اختیار مقامات قرار می‌گیرد.

# ملي دسترخوان او د فساد وېره؛
## وکیلانو ملي دسترخوان پروګرام د اساسي قانون خلاف وباله او بودیجه یې رد کړه



ولسي جرګې په تازه اقدام کې د افغان حکومت د ملي دسترخوان پروګرام لپاره ځانګړې شوې بودیجه رد کړه. ولسي جرګې پرون فوق العاده غونډه کړې وه او په دې غونډه کې یې پر هغه پروګرام او د هغه پر مالي امکاناتو بحث وکړ، چې ولسمشر یې له فقر سره د مبارزې لپاره غوره ګام بولي.
ولسي جرګې د مالیې وزارت چارواکي وربللي وو او له دوی یې په دې اړه پوښتنې ګروېږنې وکړې. په پای کې د وکیلانو قناعت حاصل نه شو او د رایو په اکثریت یې د ملي دسترخوان لپاره ځانګړې شوې بودیجه رد کړه.
ولسمشر غني د تېرې چنګاښ میاشتې په ۲۸مه د ملي دسترخوان تر نامه لاندې یو پروګرام پرانیست چې له مخې یې باید په هېواد کې نږدې ۹۰ سلنه وګړو ته په دوو پړاوونو کې خوراکي توکي وووېشل شي. تر دې پرېکړې وروسته په ټولنیزو او نورو رسنیو کې پر دې پروګرام اندېښنې څرګندې شوې او خلکو له حکومت د دغه پروګرام د درېدو غوښتنه وکړه. دوی ویل چې د وچې ډوډۍ د وېش په پروګرام کې پراخ فساد وشو، نو څه ضمانت موجود دی چې په دې ستر پروګرام کې به فساد نه کېږي.
پرون ولسي جرګې فوق العاده غونډه رابللې وه او په هغه کې یې د مالیې وزارت چارواکي راغوښتي وو چې د دې پروژې د مالي امکاناتو او نورو اړوندو مسایلو په اړه معلومات ورکړي. د ولسي جرګې غړو ویل چې د حکومت دغه پروګرام د اساسي قانون د ۹۱یمې مادې خلاف دی او د دې پروګرام لپاره ځانګړې شوې پیسې دې خلکو ته د کاري فرصتونو درامنځ ته کېدو په برخه کې ولګول شي. د ولسي جرګې غړي همدا راز اندېښنه لري چې ګواکې دغه پیسې به د فساد د موجودیت له امله حیف میل شي او دا به د ملت په حق کې ستره جفا وي.
وکیلانو همدا راز په دې غونډه کې د ملي دسترخوان پروګرام خیالي او غیر عملي وباله. د دغې جرګې غړي محمد عظیم کبرزاني وویل، حکومت دې دغه پیسې پر حیاتي پروژو ولګوي. د ده په خبره: ((ښه به وي د دې خیالي او فرمایشي پروژې ۲۸۰ میلیونه ډالره پروژه، د روغتیا، روغتونونو جوړولو، ښوونځیو جوړولو او نورو حیاتي پروژو باندې ولګول شي)).
ځینې وکیلان بیا وایي چې په دې پیسو افغانانو ته ګڼ فرصتونه برابرېدلی شي. د ولسي جرګې غړی کریم اتل وایي: ((که په واقعیت سره ملت ته کار کېږي، په دې پیسو باندې باید فابریکې جوړې شي، خلکو ته به د کار زمینه برابره شي)).
بلخوا مالیې وزارت بیا وایي چې دغه پیسې نړیوال بانک او نور نړیوال ډونران ورکوي چې غیر اختیاري دي او د دوی په خوښه لګول کېږي. د مالیې وزارت معین عبدالحبیب ځدران وایي: ((دغه پیسې چې د ملي دسترخوان لپاره ورکول کېږي، صلاحیت یې له نړیوال بانک او نورو ډونرانو سره دی. د ځینو نورو پروژو پیسې مو هم دې پروګرام ته ورکړې دي)).
د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي هم بیا وایي چې دا د افغان حکومت پروژه ده او موخه یې هم دا ده چې په هېواد کې د فقر په له منځه وړلو کې اغېزناک ګامونه اوچت کړي. نوموړي له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې ولسي جرګه دې د فقر په له منځه وړلو او دغه ډول پروګرامونو په پلي کولو کې همکاري ورسره وکړي.
خو له دې هڅو سره سره، د افغان حکومت چارواکو د ولسي جرګې قناعت حاصل نه شوی کړی او په پای کې ولسي جرګې پرېکړه وکړه چې د رایو په اکثریت به دغه بودجه ردوي. د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني وویل چې وکیلانو د رایو په غوڅ اکثریت دغه بودیجه رد کړې ده او معلومه نه ده چې ارګ به یې پرېکړه عملي کړې کنه.
تر دې وړاندې هم د وچې ډوډې د وېش په پروګرام کې د پراخ فساد راپورونه خپاره شوي وو، چې افغان حکومت یې تر دې دمه ولس ته په اړه معلومات او وضاحت نه دی ورکړی.

# ټرمپ: کرونا ویروس متحده ایالتونه له یوه جدي بحراني حالت سره مخ کړي دي




د امریکا د متحدو ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ومنله چې امریکا د کرونا ویروس د لوړ شمېر له کبله له یوه جدي بحراني حالت سره مخ ده.
دا په داسې حال کې ده چې د تازه شمېرو له مخې په امریکا کې لاهم د کرونا ویروس مثبتې پېښې ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دي.
د وروستیو نظرپوښتنو له مخې، رایه ورکوونکي د دې روغتیایي بحران په سمبالولو کې د ولسمشر ټرمپ پر اقداماتو ډېر ناراضه دي.
په ورته وخت کې د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۱۵ میلیونو اوښتې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله ٦۱۸ زره او ۴۱۱ کسان مړه شوي او له نهو میلیونو ډېر بېرته ترې رغېدلي دي. د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس مثبتې پېښې له څلورو میلیونو اوښتې او ۱۴۴ زره او ۹۱۰ امریکایان یې مړه کړي دي.
بلخوا ولسمشر ټرمپ ویلي، غواړي ولس د کرونا ویروس یا د زیاتېدونکي شمېر په اړه معلومات ترلاسه کړي.
ډونالډ ټرمپ پر مخونو د ماسک کارونې په اړه هم خپل چلند بدل کړی په داسې حال کې چې ټرمپ او متحدانو یې له څو میاشتو د ماسکونو د کارونې موضوع ردوله.
ډونالډ ټرمپ زیاته کړې، زیات خلک همدا وایي، که جسمي فاصله نه شي مراعتولای، د هېوادپالنې تقاضا دغه ده، چې ماسک وکاروئ او تر ما بل څوک هېوادپاله نه دی.
دغه راز د روغتیا نړیوال سازمان هم په کې د کرونا ویروس د خپرېدو په اړه اندېښنه ښودلې ده. د دغه سازمان مشر تیډروس اډهانوم ګیبرییسوس له جنیوا په یوه انلاین کنفرانس کې ویلي: «د روغتیا نړیوال سازمان د امریکایي هېوادونو پر اصلي اوسېدونکو د ویروس د اغېزو په باب ژوره اندېښنه لري، دغه هېوادونه لا هم د دې وبا عمده مرکز دی.»
د امریکا په کلیفورنیا کې چې په وروستیو اونیو کې د کرونا ویروس عمده مرکز ګڼل کېږي، پر کرونا د خلکو د اخته کېدو، په روغتونو کې د بستر کېدو او د شدیدې ځارنې په ځانګو کې د ناروغانو د داخلولو پېښې په زیاتېدو دي.

## د کتــاب خبــري

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واګې په لاس کې واخله!
### دویم څپرکی




که مو په اساسي توګه سیمینارونو ته غوږ نیولو ته زړه کېږي، نو د هغو کسانو لیدنې ته وخت ورکړئ چې د دغو سیمینارونو تعلیمي او روزنیزې چارې یې په لاس کې وي.
د پیسو ګټې او د تولیداتو د کیفیت کتلو ته وخت ورکړئ او شرکت داسې ښه سم وګورئ چې ایا رښتیا هم ستاسو له زده کړې او روزنې سره لېوالتیا لري؟ دا هر څه یوازې په نیم ساعت مجلس یا د هغوی د رنګا رنګ ویډیوګانو په کتلو او د خلکو د پیسو ګټلو د کیسو په اورېدلو نه کېږي. د شرکت د ښې پېژندنې لپاره باید له ځایه پاڅې او د هغوی په تعلیمي، روزنیزو او بېلو سیمینارونو کې ګډون وکړې.
که مو په اساسي توګه سمینارونو ته غوږ نیولو ته زړه کېږي، نو د هغو کسانو لیدنې ته وخت ورکړئ چې د دغو سیمینارونو تعلیمي او روزنیزې چارې یې په لاس کې وي.
پام مو وي، د بازارموندنې زیاتې شبکې د ښوونیزو پروګرامو خبرې کوي؛ خو د عملي کولو پلان یې نه لري. یوازې د کتابونو د یوه فهرست سپارښتنه درته کوي او بس. بیا مو پوهوي چې څنګه خپل ملګري او دوستان دې تجارت ته راولئ.
په همدې خاطر له وخته ګټه واخلئ، ښه په احتیاط د شبکه یي بازارموندنې یو شرکت انتخاب کړئ. ځکه یوازې د ګوتو په شمار شرکتونه ښوونیز او روزنیز پلانونه لري. که رښتیا شي، ځینې شرکتونه خورا ګټور تعلیمي پروګرامونه پلي کوي.

**د بازار موندنې د شبکې اړوندې پوښتنې**


د بازارموندنې د شبکې په اړه باید له ځانه دغه پوښتنې وکړې:
څوک یې مخ ته بیایي؟
ایا شرکت عملي کېدونکی ثابت پلان لري؟
ایا شرکت په خپل ښوونیز او روزنیز پلان کې تجارتي مهارتونه او ځاني پرمختګ لري؟
ایا شرکت قوي، باکیفیته او وړ تولیدات لري چې تاسو د هغو له بازارموندنې سره لېوالتیا وښیئ؟

**څوک یې مخ ته بیایي؟**

هغه بې تجربې کسان چې د S او E کونجونو په فکر تجارت پیلوي، نو د یوه شرکت پیاوړتیا د تولیداتو، پیسو ګټلو او پرمختګ په تله تلي. زه دغو ټولو ته چندان ارزښت نه ورکوم، زه هغه خلک څارم چې د شرکت واګې یې په لاس کې دي.
زه نه وایم چې تولیدات، پیسې ګټل او دې ته ورته څیزونه اړین نه دي. خو هېڅ داسې شرکت به ونه مومئ چې یوه نه یوه ستونزه دې ونه لري. ستونزې هر وخت وي. خو که تاسو داسې شرکت انتخاب کړئ چې د تکړه خلکو په لاس کې وي، نو د ستونزې پېښېدو پر مهال به هغوی ستونزه سمدستي حل کړي. رښتیا هم، که شرکت د ښو خلکو په لاس کې وي، نو هغوی په ډېره اسانۍ د هرې ستونزې حل راباسي. او که د شرکت واګې له کمزورو کسانو سره وي، نو د ستونزو د حل لپاره به هېڅ هم ونه کړای شي.
د یوه کتاب ارزښت د هغه له پښتۍ څخه نشئ معلومولای. باید د شرکتونو د پرمختګ ویډیوګانې او ویبپاڼې وګورئ، پر اصولو یې غور وکړئ، د هغوی په شالید، تجربه، پخواني حالت او ځانګړنو ځان خبر کړئ. هغوی په ځانګړې توګه وپېژنئ. که کولای شئ، نو په مستقیم ډول کار ورسره وکړئ، ځکه دوی ستا د تجارت شریکان دي.
جان: غواړم د شرکتونو له لوري یو نا درک شوی څیز روښانه کړم. دوی وایي:«که غواړئ ډېرې پیسې وګټئ، نو باید همدا اوس لاس په کار شئ.» دا خبره بلکل ناسمه ده.
رابرټ: دا خبره نه یوازې غلطه ده، بلکې بیخي کم‌عقلي ده. زیات تجارتونه تر پیلېدو وروسته په لومړي یا دویم کال ناکامېږي. د بازارموندنې شبکې هم همداسې دي. ولې باید سخت کار، وخت او انرژي په داسې شرکت کې په پانګونه ولګوو چې هېڅ شالید او سابقه نه لري.
جان: د بازارموندنې پیاوړې، مناسبې او غوره شبکې پېژنم چې د رامنځه کېدو یې درې کاله کېږي او د ځینو بیا دېرش کاله کېږي. دا خبره سمه ده چې له داسې خلکو سره یو ځای کېدل چې نوی یې په کار پیل کړی وي، په کار کې د حیرانتیا او انرژۍ سبب ګرځي. خو له هغو شبکو سره یوځای کېدل چې لسیزې یې کار کړی وي د پیاوړتیا او اعتبار موندلو سبب کېږي. له هغو شبکو سره په یو ځای کېدو کې باید ډېر احتیاط وشي چې نوی یې په کار پیل کړی وي.
د دې لپاره چې وپوهېږې په څه شي پسې ګرځې او له چا سره باید تجارت وکړې، سخت کوښښ ته اړتیا ده.
د خلکو په دې خبرو تېر نه وزې چې وایي:«شتمنېدل له نوي شرکت سره په یوځای کېدو کې دي، یا له پنځه کلن یا پنځه دېرش کلن شرکت سره په یوځای کېدو کې دي.» د شتمنېدو لپاره هېڅ چل او جادو ته اړتیا نشته. ستاسو لپاره یوازې هغه شرکت غوره دی چې کار کوي او اوږدمهاله ښکاري.
**دوام لري...**

# جیوستراتیژیک

اکسوس کتابپلورنځی




په نړۍ کې خلک د حکومتونو په چوکاټ کې استوګن دي. هر دولت بیا خپلې پولې، ولس او سیاسي نظام لري چې د خلکو چارې سمبالوي او حکومت پرې کوي. ځینې دولتونه په خپل منځ کې مثبته سیالي کوي او ځینې نور بیا د خپلو ګټو او موخو لپاره هلې ځلې کوي، چې پایله یې د دولتونو ترمنځ ټکر وي چې هر یو یې بیا خپله بڼه لري.
اسلامي نړۍ او په ځانګړې ډول عربي هغه په ستراتیژیکه هغه کې پرته ده. له همدې ځایه نورې نړۍ ته هوایي، ځمکنۍ او نورې لارې غځېدلې دي او پر دې سربېره پرېمانه طبیعي زېرمې لري.
اسلامي نړۍ له جیوستراتیژیک ټکر څخه کړېږي. له پخوا زمانې استعمار د خپل نفوذ لپاره دلته پښې را اوږدې کړې دي او بیا یې پر ضد د آزادۍ غورځنګونه پیل شوي دي.
د اسراییلو منځ ته راتګ، د عرب پسرلي پیل او نړیوالې او سیمه ییزې لاسوهنې سیمه له ستراتیژیک کړکېچ سره مخ کړې ده، چې تر اوسه د همدې کړکېچ قرباني ده. همدا اوس د سورېې پر ځمکه روسان، ایرانیان، امریکایان، ترکان، فرانسویان او ځینې نور اروپایي ځواکونه پراته دي چې هر یو یې خپله اجنډا لري.
د کتاب فکر له اوسني وضعیت څخه الهام اخیستی او لوستونکي ته ځینې عام ستراتیژیک عوامل او انګېرنې روښانوي. په منځني ختیځ کې کوم عوامل دي او څرنګه یې نور تر خپل اغېز لاندې راوستي دي؟ له لوستونکي سره باید مرسته وشي چې د سیمې په اړه یو معقول جیوستراتیژیک فکر خپل کړي.
په کتاب کې پېښې په داسې بڼه اوډل شوې دي چې لوستونکی د راتلونکي په اړه د وړاندوینې وړتیا خپله او له نویو پرمختګونو سره وړ چلند وکړي. په سیمه کې د ځواکونو د موخو او پلانونو په اړه په ټوله مانا پوه شي، نه دا چې د سطحي معلوماتو په اړه سرګردان شي.
د کتاب لیکوال وایي، د جیوستراتیژیک په اړه مې عام نظریات او معلومات راټول کړي دي، لکه څرنګه چې جرمن پوهان هر یو «هاوسهوفر او راتزل» وایي: دولت د ژوندي موجود په ډول وده کوي.
د مکندر د نړۍ زړه، د ماهان سمندري ځواک او د رنر هوایي نظریې دا څرګندوي چې هرڅوک نړۍ ته د خپل لید په چوکاټ کې ګوري. د ستراتیژیو جوړوونکي بیا له ځان سره یو تصویر جوړوي چې د نړۍ کومې سیمې باید کنټرول شي.
د لیکوال له نظره دا ټولې نظریې مهمې دي او له جیوستراتیژیک اړخه په ځان کې پراخ مفاهیم رانغاړي؛ خو دې ټولو خیالي بڼه غوره کړې ده او د تېر «ماضي» برخه ګرځېدلې دي.
د همدې نظریو ځینو بیا نړۍ دومره ساده کړې، چې له مبالغې خالي نه ده، داسې چې ته به وایې د ځمکې، سمندر او هوا تر منځ کړکېچ دی، ځواک یې له جغرافیې سره تړلی، نور لاملونه لکه ایډیالوژي، کلتور، دین او ارزښتونه یې له پامه غورځولي دي. لیکوال وایي، زما له نظره د نړۍ زړه نظریه له مبالغې ډکه ده، هر چا چې دا زړه ونیوه، په ټوله نړۍ واک چلولای شي.
د عملي مفهوم له مخې لیکوال هم هغه مفاهیم را اخلي، چې د تطبیق وړ او حقیقي وي. دا کتاب د جیوستراتیژیک په اړه له تیورۍ وړاندې کولو ډډه کوي او هغه نړیوال مفاهیم یادوي، چې تطبیق یې شونی وي، په ځانګړې توګه په منځني ختیځ او د بېلګې په توګه به د ځینو عربي هېوادونو په اړه څېړنه وړاندې کړي. دا به داسې لیکنې وي چې د وضعیت پوره شننه او ارزونه یې کړې ده.
پر دې هرڅه سربېره په کتاب کې دا هم لوستلی شی چې ایران ولې په مرکزي اسیا کې د منځني ختیځ په شان ناامني نه خپروي؟ ایران ولې د عربي هېوادونو کنټرول ته نه لوېږي؟ څوک او ولې یې ملاتړي دي؟
د ترکیې او سعودي ستراتېژۍ څه دي؟ کوچنی قطر څنګه لویې لوبې کولای شي؟ دا او دې ته ورته د سیمې په اړه د جیوستراتیژیکي مطالعې په اړه د وایل شدید لیکل شوې علمي او عملي نظریې په دې کتاب کې لوستلی شی.
مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.



| روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
| ۱ | فزیولوژي | محب الله شینواری | ۳۰۰ |
| ۲ | الکتروشیمی | ریحانه پوپلزی | ۳۵۰ |
| ۳ | سبک پېژندنه | هوسا یوسفزۍ نوري | ۲۳۰ |
| ٤ | د لیکوالۍ اصول | ګل رحمن رحمانی | ۲۰۰ |
| ۵ | د ادبپوهنې بنسټونه | محمد رفیق رفیق | ۲۲۰ |
| ٦ | د جراحي اساسات | سم انډریوز، لوک کسکریني/حسین احمد ثاقب | ۲۵۰ |
| ۷ | ځوان زخمي پاچا | عبدالهادي احمدزی | ۱۵۰ |
| ۸ | افغانۍ | عارف فرمان/سیدزیار مل هاشمي | ۱۵۰ |
| ۹ | په اسلام کې د ژوندانه آداب | محمد یوسف اصلاحي/میراحمد یاد | ۱۰۰ |
| ۱۰ | توطئه نړیوال سیاست څوک مخ ته بیایي؟ | نیکولای سنچنکو ایوانویچ/نورالحق نبي زاده | ۳۵۰ |
| ۱۱ | زندگی باافتخار | شیوګهرا/عزت الله ناصری | ۱۵۰ |
| ۱۲ | مثبتې لارښوونې | جکسون براون، بریان ټریسي.../نجیب الله خان | ۱۰۰ |
| ۱۳ | انسان د مانا په لټه کې | ویکتور فرانکل/روح الله زهیر | ۱۵۰ |
| ١٤ | د مطالعې فن | لیندا فریل انیس/احمدشاه ویاړ | ۱۵۰ |
| ۱۵ | د مدیریتي پوښتنو بانک | زاهدالله احمد | ۳۲۰ |
| ۱٦ | اداره او مدیریت | محمدبشیر بهرامی | ۲۳۰ |
| ۱۷ | د احصایې بنسټونه | ضیاء الرحمن راسخ | ۳۰۰ |
| ۱۸ | سیاسي اصطلاحات | عمران خان فضل | ۱۸۰ |
| ۱۹ | د نړیوالو اړیکو تاریخ | موریس واعیس/حکیم الدین منځنی | ۲۰۰ |
| ۲۰ | تاریخ روابط بین الملل | موریس واعیس/سید حامد رضیئی | ۱۸۰ |
| ۲۱ | د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ | سلطان شاه صفاري | ۲۵۰ |
| ۲۲ | سیاست پوهنه | عبدالرحمن عالم/محمد نواب خوښ | ۲۰۰ |
| ۲۳ | مقدمه ای بر روش تحقیق در علوم انسانی | محمدرضا حافظ نیا | ۳۳۰ |
| ۲٤ | د بریا تجربې | هارون حسین مومند | ٦۰ |
| ۲۵ | دوره ی دو جلدي راهنمای جامع گرامر تخصصی آلمانی گام به گام | حسنعلی وحید مهر | ۸۵۰ |
| ۲٦ | کینیکي فارمکالوژي | وحیدالله نوري | ۱٦۰ |
| ۲۷ | نسخه‌ها | مریم حسن زاده نائینی | ۱۵۰ |
| ۲۸ | د بریا ننداره | حضرت عثمان نوري | ۸۰ |
| ۲۹ | د افغانستان اقتصاد | سید قیاس سیدي | ۱۵۰ |
| ۳۰ | جیوستراتیژیک | وائل شدید/حمیدمحمدشاه | ۱۲۰ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانی

# بریالي مدیر او دېرش کارونه

ژباړه: عطامحمد میاخیل

يو بريالي مدير د هغو ځانګړتياوو ټولګه لري، چې د دې سبب ګرځي څو د بريا په لاره کې ښې کړنې تر سره کړي او له خپلو فعاليتونو څخه مطلوبه پايله واخلي.

په دې ليکنه کې د يوه بريالي مدير په دېرش ځانګړتياوو باندې رڼا اچوو .

۱ ــ هره ورځ يو نوی ځيز وازمايئ

هره ورځ هڅه وکړئ چې يو نوی کار تر سره کړئ، حتا که تر سره کول يې سخت هم وي او يا مو نه خوښېږي، چې تر سره يې کړئ.

۲ ــ د خپل ځان لپاره يوه بده ورځ مه جوړوئ

د يوه شرکت مديريت کول سخت کار دی او هره ورځ له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېږئ. مه پرېږدئ چې ستونزې ستاسو لپاره يوه بده ورځ جوړه کړي.

۳ ــ له ورځنيو پېښو څخه خبر واوسئ

خبرونه وڅارئ، څو له ورځنيو پېښو څخه خبر شئ.

۴ــ ښلابلو مراسمو ته چې وبلل شوی، لاړ شئ.

په ښلابلو ناستو او مراسمو کې ګډون کول، د دې سبب ګرځي چې له ښلابلو افرادو سره آشنا شی او د دا افراد ښايي په راتلونکي کې له تاسو سره مرسته وکړي.

۵ ــ تل د نويو تګلارو د ازمويلو په حال کې واوسئ

تل هڅه وکړئ چې د خپلو کارونو د تر سره کولو لپاره نوې لارې پيدا کړئ.

۶ ــ فکري او خلاقانه لوبې تر سره کړئ

که د کوم کار د تر سره کولو لپاره مناسبه آيډيا نه لرئ، لوبې وکړئ. فکري لوبې او هغه لوبې چې په هغو کې بايد کوم څه جوړ کړئ، له تاسو سره مرسته کوي، له رنګونو سره لوبه يوه ښه تګلاره ده.

۷ ــ مديرانو او يا د سازمان مهمو غړو ته د برېښناليک له لېږلو څخه مه ويرېږئ

بايد وکولای شئ چې له خپلو مديرانو سره په اړيکه کې واوسئ او د ستونزو په اړه ورته ووايې. په دې کار سره به هغوی له تاسو سره مرسته وکړي.

۸ ــ د خپلو کارونو مهالوېش ته دقت وکړئ

تل هڅه وکړئ چې په ټاکل شوي وخت، خپلو دندو ته رسېدګي وکړی. دا کار د دې سبب ګرځي چې کارمندان مو هم له تاسو څخه پيروي وکړي.

۹ ــ هغه کار چې خپله نه غواړئ تر سره يې کړئ، نورو ته يې مه سپارئ

کاري چاپېريال په ښلابلو شرايطو کې ډېر ستړی کوونکی کېږي او ښايي کوم کار تر سره نه کړئ، دا کار نورو ته مه سپارئ او هڅه وکړئ چې تل په شرکت باندې مثبت شرايط حاکم وي.

۱۰ ــ په يوټيوب کې د ښلابلو شرکتونو د بريالیو مديرانو ويډيوګانې وګورئ

په يوټيوب او نورو سايټونو کې د بريالیو مديرانو او افرادو وېناوو ته غوږ نيول، د دې سبب ګرځي چې نوي ځيزونه زده کړئ.

۱۱ ــ مديټيشن وکړئ

په ورځ کې شل دقيقې مديټيشن وکړئ، څو آرامه ذهن ولرئ.

۱۲ ــ په خپل کار پورې اړوند غږيزو کتابونو ته غوږ ونيسئ

ښايي له يو ساعت موټر چلونې وروسته خپل کارځای ته ورسېږئ. په دې وخت کې هڅه وکړئ چې په خپل کار پورې اړوند غږيزو کتابونو ته غوږ ونيسئ.

۱۳ ــ هره ورځ په مثبت ليد سره پيل کړئ

تل روحيه لرونکی واوسئ، ستاسو ښه روحيه په کارمندانو باندې هم اغېز ښيندونکې ده.

۱۴ ــ د خپل ټيم د ټولو غړو لپاره وخت په پام کې ونيسئ

هڅه وکړئ چې د ټولو هغو افرادو خبرو ته چې په ټيم کې مو داخل دي، غوږ ونيسئ او ستونزې يې حل کړئ.

۱۵ ــ د موټر چلونې پر مهال له وخت څخه ښه ګټه واخلئ

د موټر چلونې پر مهال کولای شی نور کارونه تر سره کړی. کله چې په ټرافيکي ګڼه ګوڼه کې بند پاتې ياست، کولای شی له خپلو همکارانو سره خبرې وکړئ



او له هغوی سره خپلې کاري ناستې همغږې کړئ.

۱۶ ــ کاري ناستو ته په بشپړو معلوماتو سره لاړ شئ

مخکې تر دې چې کاري ناستې ته لاړ شی، په اړه يې معلومات ولرئ، دا معلومات د يوه کاغذ پر مخ يادانښت کړئ، څو له هغو څخه په ګټه اخيستنې سره ښه ناسته ولرئ.

۱۷ ــ د يوه بريالي مدير په توګه يوګا مه هېروئ

د يوګا ورزش له تاسو سره ډېره زياته مرسته کوي، څو وکولای شی سخت کاري شرايط تر شا پرېږدی.

۱۸ ــ له هغو کسانو سره کار وکړئ چې ستاسو مهارتونه بشپړوي

د يوه بريالي مدير په توګه، بايد د ښلابلو کارونو په تر سره کولو کې لوړ مهارت ولرئ. د دې کار لپاره غوره ده له هغو کسانو څخه ګټه واخلئ، چې ستاسو مهارتونه بشپړوي.

۱۹ ــ له ويده کېدو مخکې لږ پلی مزل وکړئ

موسيقۍ ته له غوږ نيولو پرته، له ويده کېدو مخکې دېرش دقيقې پلي مزل د دې سبب ګرځي، چې له تشويش او انديښنې لرې آرامه ذهن ولرئ.

۲۰ ــ خيالبافي وکړئ

ذهن مو آزاد پرېږدئ او د ښلابلو مسايلو په اړه فکر وکړئ. خيالبافي وکړئ او هر څه ته په بل ليد سره وګورئ.

۲۱ ــ مناسبه تغذيه ولرئ

يو سالم سبا ناری د دې سبب ګرځي چې بدن مو د ورځنيو کارونو د تر سره کولو لپاره کافي انرژي ولري.

۲۲ ــ کاري مسايل کور ته مه وړئ

کاري مسايل د کور له چاپېريال څخه لرې کړئ، څو وکولای شی آرامه شپې ولرئ.

۲۳ ــ راتلونکې په داسې ښه تعريف کړئ، چې ټولو ته د منلو وړ وي.

د راتلونکې په اړه د خبرو کولو پر مهال داسې چلند وکړئ، چې ټول وکولای شي راتلونکي ستاسو له ليد څخه وګوري.

۲۴ ــ ورزش وکړئ

هره ورځ ورزش کول مو روحيه ښه کوي او د دې سبب ګرځي، چې په ډېره انرژۍ سره کار وکړئ.

۲۵ ــ له ستونزو څخه مه تښتئ

هڅه وکړئ چې په سختو شرايطو کې وېرې ته د خپل ځان په لور لاره ورنه کړئ، په دې شيبه کې بايد شرايط متوازن کړئ. له ښلابلو افرادو سره خبرې کول او د هغوی له لارښوونو څخه ګټه اخيستنه، د دې سبب ګرځي چې وکولای شی شرايط په ښه توګه کنټرول کړی.

۲۶ ــ په کافي معلوماتو سره تصميم نيونه وکړئ

مخکې تر دې چې تصميم ونيسی، هڅه وکړئ چې کافي معلومات تر لاسه کړئ، د يوې موضوع په اړه د معلوماتو لرل، د دې سبب ګرځي چې سم تصميمونه ونيسی.

۲۷ ــ د خپلو ورځنيو مهمو کارونو لېست جوړ کړئ

د خپلو ورځنيو درېو مهمو کارونو يو لېست جوړ کړئ او هڅه وکړئ چې پای ته يې ورسوی.

۲۸ ــ کارمندان مو پوښتنې کولو ته وهڅوئ

داسې شرايط را منځته کړئ چې کارمندان مو وکولای شي د خپلې کاري راتلونکې په اړه پوښتنې وکړي.

۲۹ ــ هره ورځ له يوه پېرېدونکي (مشتري) يا مخاطب سره خبرې وکړئ

له پېرېدونکي سره خبرې کول د دې سبب ګرځي، چې وکولای شی ښلابل فيډبکونه را ټول کړی او په هغو سره د خپل شرکت په بهير کې بدلونونه رامنځته کړی.

۳۰ ــ هره ورځ خپل برېښناليکونه چک او هغو ته ځواب ورکړئ

هڅه وکړئ چې برېښناليکونه مو مديريت کړئ. په ښلابلو فولډرونو کې يې ځای پر ځای کړئ، څو د لومړيتوب په ترتيب سره ځواب ورکړی.

# کابلوف: د بنديانو د تبادلې تر بشپړېدو مخکې د افغانستان په اړه ناستې او طرحې بې مانا دي

د افغانستان لپاره د روسيې ځانګړي استازي ضمير کابلوف ويلي، د بنديانو په تبادله کې د ځنډ له امله د افغان سولې په اړه د کومې ناستې تابيا نه لري.

د کابلوف په خبره، تر هغې چې د بنديانو د تبادلې پروسه نه وي بشپړه شوې، د افغانستان په اړه هره ناسته او طرحه بې مانا ده. کابلوف دا څرګندونې وروسته له هغې کوي چې افغان حکومت ويلي، شاوخوا ۵۹۰ زندانيان د جنايي او اخلاقي جرمونو له امله نه خوشې کوي.

دې چارې د سولې پروسه ځنډولې او طالبانو ويلي، افغان حکومت په دې او ورته نورو بهانو هڅه کوي د سولې پروسه له ځنډ او ځنډ سره مخ کړي.

په ورته وخت کې افغان حکومت خبرداری ورکوي، چې نړيوالې ټولنې او افغانانو طالبان تر ذره بين لاندې نيولي او د دغې ډلې هر ګام څېړي او څاري.

د ولسمشرۍ مانۍ وياند صديق صديقي په کابل کې خبري ناستې ته وويل، چې طالبانو تراوسه هم له تاوتريخوالي لاس نه دی اخيستی او د دغې ډلې له امريکا سره سياسي ژمنه ماته کړې.

صديقي خبرداری ورکوي، چې د سولې په بهير کې د بنديانو د خوشې کولو بحثونه د حکومت د کمزورۍ په مانا نه دي او طالبان بايد ځانونه ګټونکي ونه



بولي.

که څه هم افغان حکومت طالبان د تاوتريخوالي کمښت او مذاکراتو ته رابولي، خو خبرداری هم ورکوي، چې د دغې ډلې هر ګام د غړيو د نړيوالې ټولنې او افغان حکومت تر ذره بين لاندې دی.

هغه زياته کړې: «موږ طالبان ازاد کړل، خو دغه ډله له جګړې لاس واخلي، خو يادې ډلې تاوتريخوالي ته دوام ورکړی، د سولې په پروسه کې يې ژمنې کمې دي، طالبان د افغانانو او نړيوالې ټولنې تر ذره بين لاندې دي او د دغې ډلې هر ګام به څېړي او څاري يې.»

د ۴۴۰۰ طالبانو ازادېدل، دفاعي حالت ته د امنيتي ځواکونو تګ، د امريکايي ځواکونو کمېدل او د دغو ځواکونو د پوځي اډو تخليه هغه موارد دي، چې صديقي يې بين الافغاني خبرو ته د زمينې برابرو لپاره د هڅو په توګه يادوي.

نوموړی ټينګار کوي، چې طالبان بايد دغه هڅې د افغان حکومت د کمزورتيا په معنی ونه ګڼي او د جګړې په ډګر کې هم ځان ګټونکي ونه بولي.

په ورته وخت کې د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد ويلي، طالبانو هغه ژمنې چې له امريکا سره يې په سياسي هوکړه کې کړې، عملي يې پرې کړي او له افغان حکومت سره يې ژمنې نه درلودې.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸۶,۲۰ |
| Rp. | ۴۵۷ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۴,۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶

۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د زمري لومړی | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۲مه | ۵۷۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۸ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱٦ | لمر ختل ۰٤:۵۵ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیګر ۰۳:٤٦ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:٤۵

## رحماني: برخی مقام های حکومتی افراد مسلح غیرمسئول را حمایت می کنند



رئیس ولسی جرگه «برخی مقام های حکومت» را به حمایت از نا امن کننده گان شاهراه کابل- پروان متهم کرد و در حالی خواستار معرفی نامزد وزراء شد که این جرگه امروز رخصتی تابستانی را آغاز می کند.
میر رحمان رحمانی رئیس ولسی جرگه در نشست دیروز این جرگه درحالیکه افزایش سطح جرایم در کشور به خصوص شهر کابل را نگران کننده خواند، گفت که افراد مسلح غیرمسئول شاهراه کابل –پروان به خصوص مسیر قره باغ کابل را نا امن کرده اند.
وی گفت که این افراد مسلح غیرمسئول از سوی « شماری از مقام های حکومتی» حمایت می شوند و اسناد نیز در زمینه وجود دارد.
او بدون ارایه جزئیات در این مورد افزود، افرادی که دراین مسیر سبب ایجاد ناامنی می شوند، افراد مسلح غیرمسئول هستند که باید جلو آنها گرفته شود.
وی افزود:«سطح جرایم در سطح شهر کابل و کشور بالا رفته و با توظیف قوماندانان بی تجربه، شرایط به حدی رسیده است که هموطنان ما یک موبایل (تیلفون همراه) را با خود حمل کرده نمی تواند.»
رحمانی به کمیسیون امنیت داخلی این جرگه وظیفه سپرد تا مسؤلان امنیتی را در مورد وضعیت امنیتی کشور و به خصوص شاهراه کابل – پروان فرا بخوانند و اسنادی که در مورد وجود دارد با آنها شریک شود.
وی در آخرین روز کاری اجلاس سوم دور هفدهم تقنینی شورای ملی گفت، با آن که اجلاس جاری بنابر مشکلات و شیوع ویروس کرونا «دردناک» گذشت، اما تلاش می کند تا در اجلاس بعدی شورای ملی صفحه جدید برای درمان دردهای مردم باز بکنند.

## نړۍ



ټرمپ: کرونا ویروس متحده ایالتونه له یوه جدي بحراني حالت سره مخ کړي دي

۳

## د مصر له وروستي اقدام وروسته په لیبیا کې د بهرنیانو ترمنځ د مخامخ جګړې په اړه اندېښنې زیاتې شوې


د مصر پارلمان په تازه اقدام کې هغې لایحې ته رایه ورکړه چې د دغه هېواد ولسمشر عبدالفتاح السیسي ته اجازه ورکوي چې په لیبیا کې د پوځي مداخلې په هدف هغه هېواد ته ځواکونه واستوي. د مصر له دغه اقدام وروسته په لیبیا کې د بهرنیو ځواکونو د مخامخ جګړې په اړه اندېښنې زیاتې شوې دي.
د مصر پارلمان ویلي چې د سیسي حکومت ته یې اجازه ورکړې چې دا کار په لیبیا کې له ترورېزم او وسله والو ډلو سره د مبارزې لپاره وکړي.
دا پېپه لیبیا کې په ۲۰۱۱ میلادي کال کې د معمر القذافي تر وژل کېدو وروسته، کورنۍ جګړه پیل شوه او لا هم روانه ده. قطر، ایټالیا او ترکیه د لیبیا په طرابلس ښار کې د جوړ شوي حکومت ملاتړ کوي چې د ملګروملتونو سازمان په رسمیت پېژندلی دی، خو د نړۍ ځیني نور هېوادونه لکه مصر، متحده عربي امارات او روسیه په لیبیا کې د حکومت د وسله والو مخالفانو چې قوماندان حفتر یې مشر دی، ملاتړ کوي. په لیبیا کې د قوماندان حفتر او د طرابلس د حکومت ترمنځ جګړو کې د نړیوالو مداخله د دې خطر رامنځته کوي چې بهرني هېوادونه په دې هېواد کې په مخامخ ډول په جګړه کې ښکېل شي.
د رپوټونو پر اساس، یو شمېر هېوادونو وار له مخه پر لیبیا د ملګرو ملتونو د وسلو بندیز مات کړی او په هغه هېواد کې د جګړې دواړو خواوو ته یې وسلې ورکړې او د ملاتړ لپاره یې جنګیالي ور استولي دي.
په ورته وخت کې د فرانسې حکومت تر دې وړاندې، څو واره پر ترکیه تور پورې کړی چې پر لیبیا د ملګروملتونو دوسلو بندیز یې مات کړی دی.

## اروپايي ټولنه له کرونا ویروس ځپلو هېوادونو سره ۷۵۰ میلیارده یورو مرسته کوي

د اروپايي ټولنې مشرانو د کرونا ویروس د زیانونو د جبران لپاره د ۷۵۰ میلیارد یورو په ارزښت د مالي مرستو پر یوه بسته سلا وکړه. د اروپايي ټولنې مشرانو په بروکسل کې په خپله غونډه کې د کرونا ویروس د مالي زیانونو د جبران لپاره پر مالي مرستې ګډ توافق وکړ، چې دغه مرستې به د پورونو او مالي مرستې په توګه هغو هېوادونو ته ورکول کېږي، چې کرونا ویروس سخت ځپلي دي. د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه د بحثونو پر مهال پر دوو ډلو وېشل شوي وو، یوه ډله هغه هېوادونه وو، چې کرونا ویروس سخت مالي زیانونه وراړولي او بله ډله هغه هېوادونه وو، چې د مالي مرستو د لګولو د څرنګوالي په اړه اندېښمن وو.
دغو مشرانو په بې مخینې ډول د راتلونکو اوو کلونو لپاره د ۱.۱ ټریلیون یورو په ارزښت د اروپايي ټولنې پر بودجه هم سلا وکړه. د اروپايي ټولنې د شورا مشر شارل میشل په ټویټر کې لیکلي چې په یادو مواردو هوکړه وشوه.
بلخوا د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون دا د اروپا لپاره تاریخي ورځ بللې ده. د اروپايي ټولنې د شورا مشر شارل میشل تر دې مخکې داډ ورکړی و، هغه جوړجاړی چې ده د اروپايي ټولنې ۲۷ مشرانو ته وړاندیز کړی، پر پورونو او مالي مرستې د بستې پر سر به د یوې موافقې سبب شي او د مالي مرستو دغه بسته به له اروپا سره مرسته وکړي ځان له هغه اقتصادي رکود څخه وباسي، علت یې د کرونا ویروس وبا ده.

## ژوند

## مهالوېش او ګټې یې






که د لنډې مسافرۍ تکل لرئ، ضرور به له ځانه پوښتئ: له چا سره ولاړ شم؟ کوم وخت مناسب دی؟ د تلو له څه ډول وسیلې کار واخلم؟ څومره وخت باید هلته پاتې شم او کوم وسایل را سره یوسم؟ کله چې د یوې لنډې مسافرۍ لپاره اړ یو مخکې له مخکې پروګرام جوړ کړو او ډېرې پوښتنې له ځانه وکړو، نو بیا ولې د خپل ورځني ژوند لپاره هم دغه ډول کاري مهالوېش نه جوړوو؟ راځئ دغه اصل ومنو او د هر کار له کولو مخکې پروګرام جوړ کړو.
جوړ شوی مهالوېش باید داسې ځای کېښودل شي، چې هر وخت ورته لاسرسی ولرئ. که کمپیوټر ته لاسرسی لرئ، کولای شئ خپل ټول کاري پروګرامونه په کې ځای پر ځای کړئ، خو یو څه باید له پامه ونه غورځول شي، چې هغه وخت دی، څکه وخت په هر کار کې اړین رول لوبوي او د پانګې د له منځه تلو مو مخنیوی کوي.

## شتمن کېدل په عمر پورې تړلې خبره نه ده

کېدای شي ډېری کسان له ځان سره ووایي چې د شتمن کېدو لپاره زه ډېر ځوان او یا هم نور بوډا شوی یم. سمه ده چې د سپما لپاره کېدای شي تاسو ډېرو کلونو ته اړتیا ولرئ، خو داسې لارې چارې هم شته چې ان په ډېر کم عمر او یا هم شپېته کلنۍ کې سړی شتمن کړي. که خپلې شاوخوا ته هم وګورئ، ډېر تنکي ځوانان به وګورئ چې په خپلو متو شتمن شوي او یا به له داسې کسانو سره مخ شئ چې پخوا یې ګزاره ښه نه وه، خو اوس چې مخ پر زړېدو دي، د ډېرې شتمنۍ څښتنان شوي دي. نو دې ته زړه مه خورئ چې تاسو د شتمن کېدو لپاره تر اوسه لا ډېر ځوان او یا عمر خوړلي یاست. که تاسو په دې اند وئ چې له ډېرو



سختیو او سخت کار وروسته به انسان شتمن کېږي، تېروتنه مو کړې ده، څکه د شتمن کېدو سختې له هغې سختۍ اسانه ده چې د غربت او یا هم متوسط ژوند پر مهال یې ګالې.

ماسټر ډبټ کارت
د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af | 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank

